# يَقْبِضُ اللَّهُ الأَرْضَ، وَيَطْوِي السَّمَوَاتِ بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا المَلِكُ، أَيْنَ مُلُوكُ الأَرْضِ». «الله جل جلاله به ځمکه په خپله قبضه کې ونيسي، او اسمانونه به په ښي لاس کې نچه کړي، بيا به وفرمايي: زه پادشاه يم، چېرته دي د ځمکې پادشاهان

له ابوهريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايي چې: ما له رسول الله -صلى الله عليه وسلم- څخه اورېدلي دي چې ويل يې: «يَقْبِضُ اللَّهُ الأَرْضَ، وَيَطْوِي السَّمَوَاتِ بِيَمِينِهِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا المَلِكُ، أَيْنَ مُلُوكُ الأَرْضِ». «الله جل جلاله به ځمکه په خپله قبضه کې ونيسي، او اسمانونه به په ښي لاس کې نچه کړي، بيا به وفرمايي: زه پادشاه يم، چېرته دي د ځمکې پادشاهان».

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د قيامت په ورځ به الله جل جلاله ځمکه ونيسي او راغونډه به يې کړي، او اسمانونه به په خپل ښي لاس کې نچه کړي او يو د بل د پاسه به يې راتاو کړي او لرې به يې کړي او له منځه به يې يوسي، بيا به وفرمايي: زه پادشاه يم، چېرته دي د ځمکې پادشاهان؟!

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65028